


محب الرحمن « خطيبي »


د نشر نېټه : ۲۵ سپتمبر ۲۰۱۳ میلادی

# دا دنیا

ډیره ظالمـــــه ده دنیا
هم ده بی رحمه بی وفا

خو عدالت پکښی حاکم دی
واسطه نه منـــــی د چا

ټول په یوه سترګه دا ګوری
ځوان، زوړ ، وړی یا بډا

دا نابیــــره پتا غږ کړی
چی ځان تیار که بی پروا

یا د ژړا ورک کړی یو دم
دغم په ځای درکړی خندا

او یا خوښی لتانه ورک کړی
خنـــدا بدل شی په ژړا

ځان دی ګذار ته تیار نیسه
یودم ګذار نه کړی له شا

دوستی د هیچا سره نه کړی
هم نه لـــــری د چا پروا

ولی دنیا ډیره ښایسته ده
لـــــــــکه دیار دمخ رڼا

ابدی ژوند می پکښی خوښ دی
کله هر خوا وینم ښکـــــلا

عجیبه دا دنیا ده رنګارنګه
یو خوا ځنګل، بل خوا صحرا

خطیبی ولی ته داریږی ؟
شکر دی خدای ته کړه بیا بیا

****

محب الرحمن « خطیبی »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org